ولي الله ملکزی ۲۰۲۴/۰۴/۱۰

# شعار که د شعور غږ؟

آیا دی ټکي ته مو پام دی چې په قرآنکریم کې د الرجال (سړي) په نوم سورت نه شته، خو د النِساء (میرمني) په نوم راغلی دی؟ که د خالق تعالی په سپیڅلي کتاب کې د نوح، ابراهیم او محمد (علیهم السلام) په څیر د سترو استازو د شهامتونو، دعوتونو او کړاونو خاطرې د سورتونو په بڼې یادي شویدي، نو د یوې پتمني پیغلي (مریم) په نوم سورت هم شتون لري چې د ګردې نړۍ د میرمنو په متن کې د هغي د غوره والي او برائت سند ګڼل کیږي.

که د آسیه غوندې یوه مؤمنه او غاوره میرمن، د کوم خدایګوټي د قصر بي بي هم وي، نازولی موسی (ع) به په خپلې غیږې کې نیسي او د شریر سړي له شر څخه به یې ساتي. البته، څه وخت چې ښځه کنجره او پلشته شي، هغه بیا که د نوح یا لوط (علیهما السلام) میرمن هم وي، د بغاوت جنډه به پورته کوي او د خیانت په هنداره کې به خپله مشاده وینې.

آیا خبر یاست چې کله به حضرت فاطمه د خپل پلار، حضرت رسول (ص) کور ته راغله، نو هغه به ورته پاڅید، ښکل به یې کړه او په خپل ځای به یې کښینوله؟

زما یقین دی، دا به مو هم د تاریخ په پاڼو کې لوستي وي چې پیغمبر صیب د حجة الوداع په ورځ، د عرفې د غونډۍ د پاسه د یولک اصحابو په وړاندې د عرب عجم، سپین تور او له نر سره د ښځې د برابرۍ اعلان وکړ چې دوئ ټول له آدم څخه پیدا دي او آدم له خړې خاورې!

فکر کوم دا به مو هم اوریدلي وي چې همدغه رښتیني نبي، د خپل ژوندن په ورستیو شیبو کې چې په ډیر سخت تکلیف کې وو او خولې ترې بهیدلې، فاطمه یې را وغوښتله، خپلې سینې ته یې نژدې کړه او په تکرار سره یې وویل: (أیها الناس، اتقوا الله في النساء، اتقوا الله في النساء، أوصیکم بالنساء خیراً - ای خلکو! د ښځو په هکله له الله څخه وډارېږئ، له میرمنو سره په چلند کې الله مه هیروئ، زه تاسو ته له ښځو سره د ابرومندې ګوزارې توصیه کوم).

ښه نو، اوس تاسو وواياست چې آیا ښځه د نر په څیر، انسان نه دی، پوره انسان، برابر انسان او د پوره کرامت څښتن انسان؟ که خالق ته مخ او مخلوق ته شا کړو، آیا موږ خپلو لونو، خویندو او میرمنو ته د هغوئ مشروع، انساني او مدني حقوق ورکړي؟ کنه هم ځان غولوو او هم د نورو په سترګو کې خاورې شیندو؟

آیا په دې پاسني تصویر کې زما د ګرانو لمسیو دغه انځور، تاسو ته مازې اخترېز شعار ښکاري که د شعور یو لالهنده غږ؟ که ځواب مو « هو » وي، نو راځئ چې دغه غږ د امانت په ډول، په ګډه بدرګه کړو ترڅو نورو غوږونو ته هم ورسیږي.

کور مو له پتاسو ډک
عید همه تان خجسته باد

د لیکوال نوي لیکنې په دې لینک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ